ISSUE 80 MAY 2024

# خانه نو نوی کور
# New Home

خانه نو، سرویس خبری برای اهل افغانستان در امریکا است

نوی کور، په امریکا که د افغانانو لپاره یو خبری خدمت دی

**A news service for Afghans in America**

NEW HOME is brought to you by Sahan Journal, Afghan Cultural Society,and Center for Victims of Torture.
It's reported and written by Hussain Ali Haidari.





Photo Credit: Wanman Uthmaniyyah

# کوم شرکتونه به په مینه‌سوټا کې د اوبر او لیفت ځای ونیسي؟

- اوبر او لیفت ګواښ کوي چې مینه‌سوټا پرېږدي
- په مینیاپولیس کې دوه نوي ترانسپورتي شرکتونو د فعالیت جواز ترلاسه کړی
- آیا نوي شرکتونه به د اوبر او لیفت ظرفیت ولري؟

Illustrator Credit: CVT

## کوم شرکتونه به په مینه‌سوټا کې د اوبر او لیفت ځای ونیسي؟

په مینه‌سوټا کې قانون جوړونکي په یوه وړاندیز کار کوي چې د اوبر او لیفټ چلوونکو لپاره به لږترلږه معاش وټاکي. د دې وړاندیز پراساس، لږترلږه ۱.۲۷ ډالر په هر مایل او ۰.۴۹ ډالر په یوه دقیقه کې په پام کې نیول کیږي. که وړاندیز د مینه‌سوټا مقننې قوې او د مینه‌سوټا والي لخوا تصویب شي، اوبر او لیفټ به اړ وي چې خپلو چلوونکو ته یو ټاکلی معاش ورکړي. به هر حال، اوبر او لیفټ ګواښ کړی چې که دا وړاندیز تصویب شي په مینه‌سوټا کې به فعالیت ودروي. د دې شرکتونو له ګواښ وروسته یو شمېر نورو شرکتونو اعلان کړی چې د اوبر او لیفټ پر ځای به فعالیت کوي میولز او وریز دوه هغه شرکتونه دي چې د مینیاپولیس په ښار کې یې د فعالیت جواز ترلاسه کړی. وریز شرکت ویلي چې په روانه اونۍ کې د خدماتو وړاندې کولو ته چمتو دی. په مینه‌سوټا کې د ټرانسپورټ شرکتونو لپاره د جواز فیس شاوخوا ۴۰ زره ډالرو دی او د ویلچیر لپاره اضافي ۱۰ زره ډالرو دی. بار وړونکي د مینیاپولیس او سینټ‌پال هوایی ډګرونو کې د کار کولو لپاره جلا جوازونو ته اړتیا لري. مای‌ولس شرکت په هوایی ډګر کې د فعالیت پیل کولو لپاره ۱۰ زره ډالر د تضمین او ۵۰۰ ډالرو غوښتنلیک فیس ورکړی. دغه شرکت دا هم ویلي چې په سینټ‌پال ښار کې یې د فعالیت غوښتنه کړې، خو تر اوسه یې غوښتنلیک نه دی منل شوی.

**خپل پوښتنې او نظر له موږ شریکې کړئ**

**651-504-8170**

**ادامه ...**

د دې شرکت په وینا، د جواز ترلاسه کولو لګښت له ۴۱ زره ډالرو څخه ډېر دی. په ورته وخت کې، د مینیاپولیس ښار په یوه بیان کې ویلي چې دوی د ویرز او میولز شرکتونو لپاره د فعالیت جواز صادر کړی. که څه هم دغو دوو شرکتونو د خپل فعالیت جواز ترلاسه کړی، خو لا هم په دې اړه ډېرې اندېښنې شته چې ایا دغه دوه شرکتونه به د اوبر او لیفټ ځای ونیسي او که نه؟ د مای‌ولس شرکت چارواکي وایي، د دې شرکت اپلیکیشن اوبر ته ورته دی او خلک کولای شي له هغه څخه د ټرانسپورټ غوښتنه وکړي. د بیر په وینا، د دغه شرکت مدیر د کار د پیل لپاره شاوخوا سل موټر چلوونکي ثبت کړي دي. هغه زیاته کړه، چې موټر چلوونکي شاوخوا ۷۵ سلنه پیسې ترلاسه کوي. دې شرکت هیله څرګنده کړې چې دا شمیر به د وخت په تیریدو سره زیات شي. په ورته وخت کې د وریز شرکت بنسټګر وایي، دوی له موټر چلوونکو څخه د میاشتني غړیتوب سل ډالره فیس اخلي او پاتې پیسې یې موټر چلوونکو ته ځانګړې شوې دي. د هغه په وینا، موټر چلوونکي د پېرودونکو په څېر دي، چې سل په سلو کې پیسې ترلاسه کوي. اوس مهال، ویریز شرکت د ټکساس په ګډون د امریکا په۹ایالتونو کې فعالیت کوي. پخوا له اوبر او لیفت سره د خلکو د ډېټا د ساتلو په اړه اندېښنې موجودې وې، خو د دغو دوو شرکتونو بنسټ ایښودونکي وایي چې دوی خلکو ډېټا نه ساتي، بلکې دا کار د کریډېټ کارډ کمپنۍ کوي. هغه موټر چلوونکي چې په دې دوو شرکتونو کې د کار کولو غوښتنه کوي باید خپل امنیتي تاریخ په بریالیتوب سره تیر کړي. په هرحال ، د مینه‌سوټا ایالت پریښودو په اړه د اوبر او لیفټ وروستۍ پریکړه لاهم نامعلومه ده.